مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۳/۰۸/۱۸

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(ځلورمه برخه)



(امان الله خان او ملکه ثریا په اروپاکې)

هغه مهال چې امان الله خان د اروپا په سفر ؤ، په افغانستان کې د هغه پر خلاف (د استخباراتو په اصطلاح) د انګرېزانو لخوا، بدنامووونکي تبلیغات او توطیې رواني وې، تر څو له دې لارې د امان الله خان د پرځولو لپاره خلک وپاروي. د امان الله خان پر خلاف، انګرېزانو د خپلو سل ډوله دسیسو په لړ کې د ملکې ثریا ځیني نیمه لوڅ انځورونه چې د انګرېزانو لخوا منتاژ شوي وو، افغانستان ته رالیږلي وو چې دا ډول انځورونه زموږ د ټولنې له ګروهې او دودنو سره په ټکر کې وو او سخت منفي اغېز یې درلود، په دې هکله امریکایی لیکواله ریه تالي ستوآرټ لیکي:«د افغانستان د غرنیو قبایلو په سیمو کې د (ملکې ثریا) داسې یو انځور د خلکو لاس ته لویدلی ؤ چې سر یې د امیر امان الله خان د میرمنې، ملکې ثریا ؤ او تن یې د یوې نیمه بربنډې رقاصې ښځې ؤ چې په دې کار کې **د بریتانیې د لاس درلودلو ثبوت لیدل کیده،** ځکه چې (په هغه وخت کې) د داسې انځورونو چاپولو ځینو مخصوصو الاتو او سامانونو ته ضرورت درلود.»[1]

[1] : ریه تالي ستوآرټ: اور په افغانستان کې. ژباړه: د محقق مرستیال عبدالحسیب حکیمي.۵۵۳مخ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدارنګه صفيه حيلم ليکي:«د لندن نيوز مجلې د مخ په پاڼه، د پاچا او د ملکې عکسونه خپاره شول نو د دې کاپياني په يوه ورځ کې له پېښور نه د کابل شور بازار ته ورسيدلې. هم دا عکسونه وو چې د افغانستان په جوماتونو کې ورباندې ملايانو د کفر فتواګانې جاري کړې او امان الله خان يې د انګرېزانو ګوډاګی وبللو. دا خبر هم خپور شو چې يو انګرېز جاسوس د ملا په جامه کې ګرځي او نوم يې پير کرم شاه دی. تصادف دا و چې په پښتونخوا کې د پير کرم شاه په نوم يو کس مجبور شو چې خپلو مريدانو ته اعلان وکړي چې د کابل يا انګرېز سره يې هيڅ تړاو نه شته.»[2]

امان الله خان چې کله مصر ته ولاړ په هماغه ځای کې عکاسانو د ملکې ثريا او نورو مصريانو انځورونه واخيستل او «د شاهي کورنۍ عکسونه په اروپايي مطبوعاتو کې څرګند شول چې په افغانستان کې په ندرت سره ليدل کيدل، اما اوس يې کاپي ګانې هلته استول کېدې او ګرد به ګرځول کيدل، په تېره بيا د ثريا عکسونه چې يوه د جالی حجاب يې پرمخ ؤ او په مصر کې پلې روانه وه او له کافرانو سره يې عکسونه اخيستل شوي وو، حتا غرني قبايليان چې لږ کسان هلته باسواده وو دغه عکسونه يې وليدل.»[3]

ريه تالي ستوآرټ زياتوي چې امير امان الله خان د اروپا په سفر تللی ؤ کله چې د فرانسې هيواد ته ورسيد، ملکې ثريا چې فرانسوی ژبه يې زده کړې وه، وويل (بانجور= bongouur) خپل لاس يې اوږد کړ، د فرانسې جمهور رئيس د ثريا لاس ښکل کړ، عکاسانو په دې شيبه کې ژر، ژر عکاسی وکړې. د افغانستان د ملکې د لاس ښکلولو صحنه د يو بهرني سرې لخوا د هند او افغانستان ترمينځ د هغو ټولو غرونو په لړی کې ټکان ورکونکي څپې منځ ته راوړې چې ويروونکي قبايل په کې اوسيدل، دغه ټکان ورکوونکي څپې تر بمبيی پورې ورسيدې او هلته يو اخبار يو کارتون چاپ کړ چې يو ملا د ملکې ثريا د مخ لوڅي عکس په ليدو سره په تشويش کې لويدلی ؤ.[4]

د حبيبې لېسې يو تن بنګالی استاد، سيد مجتبی علي چې هغه مهال په کابل کې ؤ، ډېرې پېښې يې ليدلې او ډېر څه يې اوريدلي دي، د ملکې ثريا د مونتاژ شويو انځورونو او ناوړه تبليغاتو په هکله په خپلو خاطرو کې ليکي:«ځينې ورځپاڼې د جلال آباد غونډې وروسته پاتې ښار ته هم رسيدلې وې، د ورځپاڼو په انځورونو کې ښکاري چې ملکه ثريا پردو سړو ته ورغاړې وتي ده... .

مجتبی علي زياتوي د شينوارو د غوښتنو تر څنګ دا هم وويلي ؤ چې «بايد ملکې ثريا ته [امان الله خان] طلاق ورکړي، دوی وايي چې ملکې ثريا په اروپا کې له پردو سړو سره پرېوتلې ده، حيا او عزت يې بايللي دي.»[5]

فضل عمر مجددي ليکي چې د ملکې ثريا او ورسره تلليو ښځو نيمه لوڅ انځورونه په هېواد کې د شپې لخوا د نامالومو کړيو لخوا خپريدل، د ايران (ستاره) نومي جريدې په خپلو لومړيو مخونو کې د ملکې ثريا نيمه لوڅ انځورونه چاپ کړل او ډېر شمېر يې افغانستان ته راورسيدل.

مجددي زياتوي چې امان الله خان د ايران له لارې هرات، کندهار او تر غزني پورې په خپل ګاډي کې سفر وکړ، په لاره کې يې له مخورو او عامو خلکو سره په هماغه اروپايي جامو کې ليدنې کتنې وکړې... خلکو د ملکې جامې د اسلامي حجاب خلاف وبللې.[6]

کله چې پاچا د اروپا په سفر بوخت ؤ، انګريز استخباراتو داسې تبليغات هم خپاره کړل چې په ځينو لاس ته راوړنو باندې به خلک خبريدل نو چې ملايان د صابون جوړولو له ماشين څخه خبر شول ځينو يې وويل چې امان الله خان خيال لري چې د مسلمانانو جسدونه ويلې (ذوب) کړي او بيا صابون ترې جوړ کړي.[7]

څه موده وروسته د پاچا د دښمنانو لخوا بيا داسې آوازه خپره شوه چې په کې ويل شوي وو:«امان الله خان په جرمني کې يو داسې ماشين رانيولی دی چې د انسانانو جسدونه سوځوي.» دا آوازه د صابون د جوړولو د پخوانی آوازې بله بڼه وه چې اوس د پيسو په بدل کې د انسانانو سوځول وو هغه داسې چې: د مالدار سړې د سوزولو لپاره ديرش روپۍ، د غريبانو سوځول په وړيا توګه او د مکروبونو د خپريدو د مخنيوي په خاطر د ټولو ملايانو سوځول.[8]

دا ډول تبليغات چې انګرېزانو په لار اچولي وو چې ګواکې ملکې ثريا زنا کړې ده او له کفارو سره يې يو ځای انځورونه اخيستي دي؛ د فرانسې ولسمشر يې لاس ښکل کړی او امان الله خان د مړيو د سوزولو لپاره ماشينونه اخيستي دي د خلکو د پارولو لپاره تر ټولو ښه وسايل وو.

---

[2] : د صفيه حليم ليکنه: د عربستان لارنس په افغانستان کې.

[3] : اور په افغانستان کې. ۴۲۰مخ.

[4] : هماغه کتاب. ٤٣٦مخ.

[5] : سيد مجتبی علي: په يو بل وطن کې. ژباړه: نور الحق حيدر. ۲۶۶مخ،

[6] : فضل عمر مجددي: افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله خان.۲۴۷- ۲۴۸مخ.

[7] : اور په افغانستان کې. ٤٤٤مخ.

[8] : اور په افغانستان کې. ۵۰۲مخ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له بلې خوا د ملکې ثریا او امان الله خان غربي لباس او افغانستان ته په هماغه غربي جامو کې راتلل د انګرېزانو لپاره د ملایانو او خلکو د راپارولو په برخه کې یوه بله ښه پلمه شوه چې انګرېزان په اسانۍ سره د امان الله خان پر وړاندې د ملایانو او پیرانو لخوا د کفر د فتوا په ورکولو کې بریالي شول.
هم مهاله انګرېزي استخباراتو خپل څو تنه اجینټان لارنس، وېډ، محمد عمر خان او نور د امان الله خان د حکومت پر خلاف د افغانستان په دننه او بهر کې ګمارلي وو چې تر ټولو یې ډګروال لارنس چې له دې وړاندې یې په عربو کې د ترکانو پر خلاف عربان پارولي وو، ډېر شهرت درلود. او دخوست په ۱۹۲۴ز، کال په ناآرامیو کې یې هم رول درلود.
«د بریتانوي هندي پوځ یوه سرتیري (ګېلبرت لېوېس) په ۱۹۲۸م، کې په خپل یو لیک کې ولیکل چې ډګروال لارېنس «په میرانشاه کې له شاهي هوایي ځواک سره ؤ.» نورې سرچینې ادعا کوي چې د ۱۹۲۸م، کال د جنورۍ او مارچ تر منځ لارېنس ترۍ تم شو او ان د هند دفتر لا دا مالومات نه لرل چې دی چېرته دی او څه کوي؟ آوازې وې چې لارېنس په افغانستان کې په فعالیت بوخت ؤ. دی یو آزاد شغله لمسوونکي اېجنټ ؤ، سیمه ایزې مذهبي جامې (لونګۍ او چپنه) یې اغوستل، له قبایلو سره یې صمیمي اړیکې لرلې. وروسته یې د قبایلو په منځ کې د وسلو او پیسو په وېش پیل وکړ او د پاچا امان الله خان پر ضد یې راوپارول. لارېنس د ۱۹۲۹م، په لومړیو کې د بهرنیو چارو وزارت په امر بېرته انګلستان ته واستول شو او یوائې یو څو ورځې وروسته پاچا امان الله د باغیانو له لوري راوپرځول شو.»[9]
په کابل کې د هغه مهال ایراني سفیر، سید مهدي فرخ، لیکي چې کله «امان الله خان له روسانو سره پټې اړیکې ټینګې کړې، د هند حکومت غوڅ تصمیم ونیو او یو تن روحاني، (چې اوریدلي مې دي) مشهور کلنل لورنس په پټه د مشرقي په سیمه کې د قومونو په منځ کې څرګند شو. چې د شینوارو په قوم کې یې لومړنی اور بل کړ.»[10]
پېژندل شوي ژورنالسته او لیکواله صفیه حلیم چې د ډګروال لارنس په اړه یې مالومات راټول کړي دي داسې لیکي:«د لندن (سنډې اېکسپرېس) د ۱۹۲۹م، جنوري په ۵ نېټه په دې سر لیک راپور ورکړ «کرنل ټي- اي- لارنس د شاه امان الله پر ضد د افغانستان د قبایلو د لمسون پړه پر غاړه لري.» په بله ورځ د بریتانیې، فرانس، جرمني او د ایټالیې لویو ورځپاڼو دا خبر خپور کړ. د روس ، ترکیې او عرب ملکونو سره سره د هند ورځپاڼو هم دا خبر او ورسره د غندنې مضمونونه خپاره کړل. د بریتانیې د هغه وخت د محافظه کار ګوند لخوا په حکومت نیوکې وشوې او په کابل کې سفیر ته وویل شول چې لارنس دې بېرته واستوي. د بریتانیې خارجه وزیر آسټن چېمبرلېن څو ورځې وروسته د پوښتنو په ځواب کې د لارنس دفاع وکړه چې هغه په میران شاه کې یوائې د هوایي ځواک یو میخانیک په توګه کار کاوه او د افغانستان د پېښنو سره یې هیڅ تړاو نه و.»
صفیه حلیم لیکي چې د راپورونو تر مخې لارنس په ۸ جنوري ۱۹۲۹ م، کې بېرته انګلستان ته ولاړ. خو دا هر څه د میډیا د ښودلو لپاره وو او څو ورځې وروسته لارنس بېرته په افغانستان کې و ځکه د ده کار لا پای ته نه و رسیدلی. د فرانسې او روسي اخبارونو خبرونه ورکړل چې دا د لارنس کار وو. هغه نه یوائې جاسوس ؤ، بلکې خلک یې د پاچا پر ضد راپارول. د لارنس یو کار د امان الله خان پر ضد د اتلسو مادو د یوې اعلامیې خپرول وو چې په پېښور کې چاپ او له هغه ځایه د افغانستان په لویو ښارونو کې خپرې شوې. هغه وخت د افغانستان په فضا کې د بریتانیې الوتکې کاواکه ګرځیدې او د هوا نه به یې هم پاڼې خپرولې. یوه الوتکه په بیړني حالت کې په (جګدلک) کې ښکته شوې وه. پیلوټ او الوتکه دواړه د لارنس په مداخله د افغانستان د دفاع وزارت نه راخوشې کړای شول.»[11]

انګرېزانو د شینوارو د بغاوت پر مهال د سردار محمد ایوب خان یو زوی چې په هند کې اوسیدهٔ، افغانستان ته راولېږهٔ ترڅو په محمد عمر باندې خلک راټول او د امان الله له حکومت سره جګړه وکړي، په داسې حال کې چې انګرېزانو د افغانستان د پاچاهۍ لپاره جنرال نادر خان چې په فرانسه کې اوسیده هم په نظر کې نیولی ؤ، «د ۱۹۲۸ز، کال، د دسامبر په ۲۲مه نېټه د امیر شېر علي خان لمسی، محمد عمر خان چې د هند په الله آباد کې د انګریزانو تر حمایې او څارنې لاندې اوسیده، وهڅول شو چې له هند څخه افغانستان ته ولاړ شي، هغه وو چې محمد عمر د افغان یاغیانو سیمې ته د ورتلو په هڅه کې شو چې د امان الله پر خلاف د یاغیانو رهبري په لاس کې واخلي، انګرېزانو غوښتل چې د خوست د (۱۹۲۴ز) کال اړدوړ په شان د افغانستان د تخت او سلطنت لپاره یو بل مدعي وړاندې کړي او د ځان غوښتونکي او خپلواک امیر امان الله خان پر ځای یې واکمن کړي. د انګزېزانو مطبوعاتو [په دروغو] خبر ورکړ چې محمد عمر په قوم مومند دی او له هغوی سره د خپلوۍ اړیکې لري او هم د شینوارو په منځ کې له زیات نفوذ څخه هم برخمن دی.

---

[9] :علي احمد جلالي: د افغانستان نظامي تاریخ. ژباړن: متقاعد ستر جنرال شېر محمد کریمي. ۳۵۸مخ.
[10] :تاریخ سیاسي افغانستان. ۴۸۳مخ.
[11] :د صفیې حلیم لیکنه: د عربستان لارنس په افغانستان کې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

د انګرېزانو دغه عمل د افغانستان حکومت لپاره خورا خواشینوونکی ؤ چي په اړه یي په لندن کي افغان سفیر شجاع الدوله د انګریزانو د بهرنیو چارو وزارت ته د اعتراض، رسمی یاد داښت ورکړ ... .»[12]

په کابل کي د انګریزانو استازي ولیکل: که چېري محمد عمر، ځان د افغانستان امیر اعلان کړي نو دا کار به د انګریزانو لخوا د توطیي په رامنځ ته کولو کي ښه دلیل ثابت شي... په همدي وخت کي انګرېزي استخباراتو راپور خپور کړ چي محمد عمر له هند ځخه افغانستان ته تېنتیدلی دی او د هغه اړیکي یي د تګاب له ملا او عبدالواحد شینواري سره وښودل، د تګاؤ ملا چي د سقاؤ او شینوارو یاغیانو تر منځ یي اړیکي ساتلي. بل تن عبدالواحد شینواری چي مستعار نوم یی (وید) او د استرالیا تبعه پېژندل شوی ؤ... او په پاریس کي یي له نادرخان سره هم لیدلي وو... .[13]



(له ښي خوا دویم کس انګرېز جاسوس لارن په عربستان کي)

نېټه:۱۴۰۲/۵/۲۶ل. ل

**نور بیا**

---

[12]:ډاکټر ویکتور ګریکوویچ کارګون: افغانستان در سالهای بیست و سي، قرن بیستم میلادي. دري ژباړه: پوهاند ډاکټر جلال الدین صدیقي. ۷۳مخ.
[13]: هماغه کتاب. ۲۵۲مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ